مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۷/۲۰

# خوشعرونه، خویادونه

## خوکرلي تخمونه

## (د مطیع‌الله تراب لومړی‌تلین)

## دریمه‌برخه

**تراب د جګړو، مهاجرتونو، ناخوالو او رنګارنګ بدلونونو په توفانونو کې رالوی شوی، له دې تولو پېښو په ژوره توګه متأثر شوی، د خپلې‌تولنې دغه تولې پېښې یې د خپل ذهن په لابراتوار کې بیا ـ بیا مطالعه کړې دي، له خپلو تجربو سره یې یوځای کړې دي او پایله یې د شعر په قالب کې بېرته خپلې تولنې او مخاطبینو ته وړاندې کړې ده، د همدې له‌پاره د تراب شعر د خلکو او تولنې د عیني واقعیتونو او غوښتنو رښه هنداره ګڼلای شو. د تراب شاعري د هغو خلکو پرذهن او فکر سخت ګوزار دی چې هغوی شعر یوازې د ګل و بلبل، زلف و کاکل، خط و خال خبرې ګڼي.**

(آصف بهاند)




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**د تراب په غږ کې، د تراب شعرونه:**

ما د تراب په باب د خپلې يوې مقالې (د خلکو د راويښولو سرلاري مطيع‌الله تراب ميراث) د ليکلو په موخه پلان جوړ کړی و چې زه به د ده پرشعرونو باندې څه ليکم، نو د ده د شعرونو د ځينو ويډيوګانو لينکونه مې راخوندي کول، د ده د مرګ غږ په خپرېدو سره يې په ټولنيزه ميډيا کې نورې ويډيوګانې هم راښکاره شوې او هغه چې ما ته نوې وې، هغه مې هم راخوندي کړې.

د تراب په غږ کې د ده د شعرونو هره ويډيو د تراب د فکرونو او ارمانونو رڼه ائينه ګڼلی‌شو، دا هره ويډيو د تراب د ملي او انساني غوښتنو پيام په رانه ډول لېږدولای شي.

ما لا پخوا دا خبره ليکلې او خپره کړې وه چې: د تراب شعر چې دومره د ده له خولې تاثير کوي، د بل چا له خولې يې نه کوي، ځکه چې دی يې په داسې جذبې سره وايي او تمثيلوي يې چې د شعر اصلي شکل، محتوی او پيام حاضرينو او ليدونکو ته ورلېږدوي. کېدای شي د تراب شعر بل څوک هم دکلمه کړي، خو د تراب شعر، د تراب له خولې او د تراب په ځانګړې دکلمې سره بل خوند او تاثير کوي. تراب يوکاريزماتيک شخصيت و.

زه داسې مدعي نه يم چې د تراب په خپل غږ کې د ده د لوستل شوو شعرونو ټولې ويډيوګانې ما ليدلې دي او بيا مې يې لينکونه راخوندي کړي دي، حقيقت دا دی چې د ده څومره ويډيوګانې چې ما ته په مخه راغلې دي؛ هغه مې د يوه باارزښته امانت په ډول راخوندي کړي دي او دا دی د ده د لومړنی تلين د درناوي په پار يې د يوه غنميت او باارزښته ارشيف په ډول له تاسو درنو لوستونکو سره شريکوم، ګوندې د تراب پېژندنې په برخه کې له نورو څېړونکو او د ده د شعر له مينه‌والو سره مرسته وکړي.

د تراب صاحب په غږ کې د ده د ويډيوګانو په باب د دې خبرې ويل اړين ګڼم چې دا ويډيو ګانې د ځينو رسمي او شخصي پڼو له ادرس څخه ثبت او تر خلکو پورې رسول شوې دي. زه د يوفرهنګي په توګه له دوی نه مننه کوم چې د تراب په غږ کې يې د تراب د شعرونو ويډيوګانې ثبت، خوندي او تر خلکو پورې رسولې دي او په دې ډول يې د تراب د شعرغږ او د تراب د فن‌پيام ترټولو رسولی دی؛ خو اوس ليدل کېږي چې ځينې کسان په پوهېدنه يا نه پوهېدنه د تراب دا ويډيوګانې د خپلې خوښې او شخصي غوښتنو او موخو په غرض په بېلابېلو ډولونو قيچي کوي، څوک له يوې ويډيو نه يوبيت يا دوه بيتونه رااخلي او له نورو تصويرونو سره يې ميکس يا ګډوي او په ټولنيزه ميډيا کې يې خپروي. په دې ډول د شعر بشپړ پيام نه افاده کېږي چې زه دا کار ناسم او د تراب له پيام او ميراث سره جفا ګڼم، هيله ده چې دا کار نور تکرار نه‌شي.

داسې ويډيوګانې هم زما له نظره تېرې شوې دي چې تراب صاحب خپل شعر دکلمې کوي، خو په تصوير کې تراب نه ښکاري او شعر لوستل هم بشپړ پای ته نه‌رسېږي او د تراب غږ نيمګړی غوڅېږي. سړی نه پوهېږي چې داسې ولې کېږي؟ د همداسې نيمګړو شعرونو يوه ښه بيلګه په لاندې لينک کې ليدلای شئ:

https://www.facebook.com/reel/1284241743825915

زه دلته د تراب د دکلمې شوو شعرونو، له يوشمېر ويډيوګانو څخه د ده د کلام يو يا څوبيتونه رااخلم او ترلاندې د همغې ويډيو لينک هم ږدم، درانه لوستونکي کولای شي په يو کلک سره ويډيو وګوري او د تراب صاحب کلام د ده په خپل غږ کې واوري:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د زړه خبري مې لا هغسې پرزړه پاتې دي
راوبښوم هغه وګړي چې ویده پاتې دي
پوځیمه پوځ، زه په یوپوځ کېس کې ژوند تېروم
لکه مارغه په یوسرپوځ کېس کې ژوند تېروم
ځو چې پښتونیمه، قرار به ترهغو نه‌لرم
د خدای په ارته ځمکه حق د اوسېدو نه‌لرم
https://www.facebook.com/reel/1496974262111536

زه دې هسې پر اوږدو لارو راتاو کړم
ترتاپورې خو یوځوقدمه لار وه
څه ګیلې او څه توبې مو ترې لوګی کړې
ستا خبرو کې یوه خبر د کار وه
ځای بدل کړه، خو خبره بدلومه
که تر تخته پورې لارې وه، که تردار وه...
https://www.facebook.com/reel/2558874884551163

اې د نازبینو د چم خانه، تا ته څه‌پته ده
ته څه خبریې لوړه څه ته او تنده څه ته وایي
ته چې پیداشوې، په ککو کې درته شات څڅېدل
زه چې پیداشوم، ما د مور اوښکو ته خوله وازه کړه
تا چې قدم کېښود، دیګونه ولسونو خوړل
زه د مور غیږ کې جام په‌لاس ستاسو کوڅه کې ولاړ...
https://www.facebook.com/reel/1943356579687743

زماهویت، زما هېواد یې
ته دې ژوندی وې، ته دې ښاد وې
تر قیامته دې ازاد وې
زه دې برباد، ته دې اباد وې
آدې برباد شې، چې څوک تا بربادوینه...
https://www.facebook.com/reel/1245863600679661

لیونی کېږم به اخر، خو لیونتوب نه‌راځي
ما ته د بل د بېرغ سیوري لاندې خوب نه‌راځي
مهمه نه‌ده چې غریب یم او که خان‌یمه زه
خو پر دې ویاړمه ملګرو چې افغان‌یمه زه
https://www.facebook.com/reel/771218012719583

دا حوصلې به ترپامیر او کهکشان رسوو
دا للمې ما کرلي، دا به ترباران رسوو
د ملاورور اخون فکري بهیر ته اوبه ورکوو
مور قوشتیپه کرلي، خلکو ته سابه ورکوو
https://www.facebook.com/reel/1975486563106070


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ټک اوټکـټک، ببل او پای‌ببل‌یو
دا دې خپل ټوپک ویشتلي یوو، غلبیل‌یو
دا منوو چې شته بچوو کې بې بچوو یوو
یو دوښمن بل ته نیولي له پښوو یوو
داسي یوچا پر موږ حمله د توپ‌ویشتو کړې‌ده
چا چې عمرونه د بل غیـره کې للو کړې‌ده
https://www.facebook.com/reel/1026772373130829

کابله ته د خپل‌ښایست قاتلان نه‌پېژني
په خپل وجود کې د لستوني‌ماران نه‌پېژني
چا چې زخمي کړلي ته، چا چې بې‌ زبون پرېښوې
کابله ته چا په وینو کې ګلګون پرېښوې
هغوی اوس ستا د اولیت حق د خپل ځان‌بولي
ما تا ته نه‌پرېـږدي او تا ته مې تاوان بولي...
https://www.facebook.com/reel/1001024275632754

بخت دې کوته، تخت دې نسکورشه
مخ دې پردواړه طرف تورشه
شوله اوبه دې د زړه‌زورشه
جان کیري خپل کور کې دې شورشه
موږ له دا دوه‌حکومته تا جوړ کړي‌دینه
**https://www.facebook.com/reel/1702820504298304**

خلک زموږ د تندو کرښوته ښه نه ګوري خو
دومره بد نه‌یو، دا مخونه مو غربت تور کړي
که د انصاف ترازو ولګید او تول شروع‌شو
دا به ثابته شي چې موږ امن‌پسند خلک یو...
https://www.facebook.com/reel/1526362115694263

لاسونه‌یې پورته کړل غوږو ته، په لمانځه ولاړ دی
پاچا پښیمانه دی، توبو پسې توبې ګرځوي
پاچا پښتون‌شو، اوس په لیو کې تسبیح ګرځوي
پاچا په ډېرې هوښیارۍ اوس خپل پردی وباسي
شاید له ارګ نه ښته‌مني او سر ژوندی وباسي
په افغان‌ضد او پښتون‌ضدو دې کابل وخوړو
پاچا ښښوو دې نه، زموږ حق دې پربل وخوړو...
https://www.facebook.com/reel/1682482766734884

وسوم دې خپل غافل‌ولس ته چې په شته وطن کې
ځمکې‌ځلورفصله کوي، خپلې‌یې اوبه وطن کې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کلونه وشول د دا اور باندې کټوی کې سوځي
سره خوله بچي يې د عربو مزدورۍ کې سوځي
پښتون اکثره غوړګټي، خو په کې سروبايلي
غيران به وګټي. خو زوروبايلي زروبايلي
نه تله تراوسه پر يوه لاره، خو غبرګ لاړه
کور کلی پاتې شو، په ژوند او ځوک په مرګ لاړه...
https://www.facebook.com/reel/899288672458301

نه تنقيدکوم چې ولې داسې وشول
بنه‌پوهېږم ځو ـ ځوځلې داسې وشول
دا هم نه‌کړم زنده‌باد او مرده‌باده
خو ښه دې ونه‌کړل اباد اسلام‌اباده
https://www.facebook.com/reel/772932739198301
اې ګاونډيانو د الله په خاطر
بس موږه پرېږدئ، صلحه مه‌راولئ
علمبردار وو د نوی په سطحه
ډېر مو لوټلي يوو د امن په نوم
يو خوا د صلحې امن چغې‌وهئ
بل‌خوا وسلې او مهمات رادرومي
هلته حقوق د بشريت غواړئ
نو بيا بشر په بشر ولې وژنئ
https://www.facebook.com/reel/1070678088952505

دا سوداګردي، سودا کاندي د سريو په سر
داسې ناتوان ديو پير او پلور کا د چوکيو په سر
لا د تاريخ قرضدارو، خاوره مو په چا خرڅه کړه؟
اوبه چا له ورکړې، واوره مو په چا خرڅه کړه؟
که زهر نه وي، شيشې وخورئ ځانته اورواچوئ
دا ږيرې کلي کړئ او دا پټکي په اور واچوئ
https://www.facebook.com/reel/1749775716015869

هغه ليمه، هغه تندي، هغه احساس بنکلوم
لکه اسوت په دواړو لاسه هغه لاس بنکلوم
چا چې انار او سنځل‌ګل او نارنج‌ګله ايښي
چا چې د دغه ښار يوه خښته پر بله ايښي...
https://www.facebook.com/reel/1356492302580245

چې زرساتونکي پټوي زر، زر په چا ساتئ
د سر سرونه مو چې خرڅ شي، سر په چا ساتئ...
**https://www.facebook.com/reel/1965975337159575**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

باور کوئ د ځینو خلکو نیم مخونه تور وو
ما ځیني خلک ولیدل چې له پښو نسکور وو
توبه توبه استغفار، ما سرچپه ولیدل
ما ځیني خلک لمرخاته ته په سجده ولیدل...

https://www.facebook.com/reel/1503484830252955

له ډېره درد او له پوښتنو په چاودلو راغله
د پرهرونو سره اوښکي په زیاتېدلو راغله
سود کاروبار شراب مباح په زنا ځوک سنګسارشو
چېرته یوغل افغانستان کي سرعام په دارشو
بنايي رشوت د اساسي قانون ماده وي کومه...

https://www.facebook.com/reel/1121037253600823

کابل د قیس عبدالرشید بابا ملا صاحب دی
کابل امام، کابل قبله او قبله‌ګاه صاحب دی
نه دوی په خپله اتلان وو، نه اتل د دوی و
نـه لـنـډغـر وو د کابل او نه کابل د دوی و

https://www.facebook.com/reel/2232265127509910

ناست د پلار ګټې ته بادشاه له ځانه مه‌جوړوه
د احمدشاه زوی، تیمورشاه له ځانه مه‌جوړوه
سل‌ځایـه قرض او سل‌قـتـلونه اخـر وبښل‌شي
د تاریخ قـرض به ترقیامت پوري ونه‌بښل‌شي...

https://www.facebook.com/reel/1362053332511181

نوربیا
د لیکوال نوري لیکني په لاندي لینک کي لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ